# په کاکړۍ غاړو کښې د پښتنو د سماجي او ثقافتي اقدارو انځور

# Image of Pashtoon's Social and Cultural Values Depicted in Kakarai Ghari

Issn 2304-1463

1- Hafeez Ur Rehman Dauran
Senior Instructor
Department of Pakistani Languages, National University of Modern Languages, Islamabad
Phone # 03003819934
E-mail: **hafeezur.rehman@numl.edu.pk**
2-Dr.M. Farooq Anjum
Assistant Professor
Department of Pakistani Languages, National University of Modern Languages, Islamabad
Phone # 03445219018
E-mail: **farooqanjumpashtonuml@gmail.com**

## Abstract:

In pursuit of a magnificent life, man has always gone through various trials and temptations to lead a wonderful life. To navigate these trials and face these temptations he has to follow certain principles. These principles are called as values. These values provide a framework for facing challenges and abiding by societal norms. Norms serve as societal guidelines, reflecting shared beliefs about what is considered morally right or wrong, desirable or undesirable. They play a crucial role in shaping behavior and maintaining a sense of order within a community. As Pashtoons constitutes one of the largest societies of the world, their norms could be followed in their societal lives.

The values of Pashtoonwali play a crucial role in providing a moral compass for individuals within the Pashtoon society. Pashtoonwali is the un-written constitution of Pashtoons, and its values and traditions are Maraka, Jirga, Nanawathi, Panah and Rogha Jorha, as well as Darha, Badraga, Badla, and Peghor are the main elements of Pashtoons' life. Moreover, the interplay between love and rebellion often unfolds in a parallel dimension, showcasing the intricate dynamics where emotions and defiance coexist. This duality can bring about both tension and transformation within personal and societal realms.

In this article, Pashtoon's social and cultural values, and its image in Kakarai Ghari, one of the salient and certified genres of the Pashto folklore, has been thoroughly discussed.

**Key words:** Literature, Culture, Pashto, Folklore, Kakarai Ghari.

اولسي ادب هغه خزانه ده چې د قامونو سياسي، کلتوري، تهذيبي، سماجي،ثقافتي، مذهبي او روحاني شتمنۍ په کښې پرته وي. د يو قام د تاريخ د ټولو نه ښه سرچينه د هغه فولکلور وي. يوه ژبه چې څومره مضبوط فولکلور لري، هغومره به هغه ژبه ژوندۍ وي.

مونږ پښتو د ژبو له هغه ګروه نه ګڼلے شو، چې لمن ئې د فولکلور له شتمنۍ ډکه ده. پښتانه په يوه داسې سيمه کښې مېشت دي چې فولکلوري پانګه ئې خورا ارته ده. په دې وجه د فولکلور ځينې ژانرونه داسې دي چې اوس لا هم د يوې مخصوصه سيمې په خلقو کښې ډېر مقبول دي. لکه کاکړۍ غاړې، ټپې، بابولالې، د اتڼ نارې، او داسې نور. دا قسم فولکلوري ژانرونه په لويه پښتونخوا کښې اوربدل کېږي او ځاے په ځاے وئيل کېږي. خو د کومې سيمې چې راټوکېدلې وي، په هغه ځايونو کښې اوس هم تر نورو سيمو زيات وئيل کېږي. چونکه زما د پلټنې عنوان کاکړۍ غاړې دي نو زه خپلې موضوع ته راځم. نورو هم ډېرو څېړنکارو په دې حقله کار کړے دے خود کاکړۍ لنډيو لمن دومرې ارته ده چې لا نورې څېړنې ته ضرورت لري.

کاکړۍ غاړې د پښتو فولکلور په صنفونو کښې يو په زړه پورې صنف دے ، چې په جنوبي پښتونخوا او په خاص طور سره د سلېمان د غر چاپېره علاقو کښې راټوکېدلې او له هم دې ځاے نه په درسته پښتونخواه کښې خورې شوې دي. د جنوبي پښتونخوا په پښتنې قبيلو کښې د ځانګړې جغرافيې او شمار په لحاظ د د کاکړو قبيله د ټولو نه غټه ده. د سهېلې پښتونخوا په هره اولسوالۍ / ضلع کښې د کاکړو آبادي ډېره ده، خو د سلېمان د غره په خوا وشا علاقو کښې نور ټول قامونه د دوي د ابادۍ په مقابل کښې ډېر لږ دي. په دې علاقو کښې يوه سيمه نن هم د کاکړ خراسان په نوم ده.د ځمکې او شمار د ډېرښت له وجې د دوي فولکلوري شتمني هم ډېره ارزښتناکه ده. په دې کښې د ټولو نه مشهوره فولکلوري صنف کاکړۍ غاړې دي. دکاکړ قبيلې لو ے انفراديت داد ے چې د دوي ژبه دځانګړي ګړدود له کبله د پښتو د نورو لهجو نه جدا ده. لکه نور قامونه چې خپل فولکلوري ادب لري دغه شان کاکړان هم په فولکلوري ادب کښې ځان ته خپل مقام لري.

کاکړۍ غاړې في البديع وئيل کېږي، چې د کاکړ قام شاعرانه طبيعت څرګندوي. خو په اوسني دور کښې ځينې داسې کاکړۍ غاړې د شاعرانو له خوا په شعوري توګه د جوړېدلو

کوششونه هم شوي دي. دا ډول غاړې زیاتره سیاسي یا رومانوي بڼه لري او د خاصو مقاصدو دپاره جوړې شوې وي. په جوړکړل شوو کاکړۍ غاړو کښې مصنوعیت له ورایه برېښي.

د پښتنو دغه سیمه چې کاکړ خراسان ورته وئیلے کېږي، له فطرت سره ډېره نژدې پاته شوې ده- د کاکړانو اولسي ادب ډېرې زورې ریښې لري، هم دغه وجه ده چې دلته فولکلور د نورو ځایونو نه ښه وده کړې ده. کاکړۍ غاړې د سلګونو کلونونه د ټپو سره څنګ په څنګ را رواني دي.د کاکړۍ لنډیو د زېږېدو ځاے هم دغه سیمه ده ، دالته زېږېدلې او ورو ورو دنړۍ په مخ خپرې شوې دي. هره لنډۍ (غاړه) ځان ته څه پس منظر لري، اؤ په یو مخصوص وخت وئیلے شوې وي. په دې کښې ډېرې داسي پیښې راوړل شوې دي چې نن هم په اولس کښې زیاترو خلګو ته معلومې دي؛ د خپلو مشرانو د خولې نه یې اورېدلې دي. دا غاړې د ساخت د لحاظه ښخي ساده غوندې دي چې په دوو مصرو مشتملې دي، دواړې په یوه قافیه کښې دي.هره مصره اته سېلابونه لري اؤ ګا ے وخت اوه اؤ اوه، اوه اؤ اته اؤ نهه نهه سېلابه مصرې هم لیدلے کېږي.

کاکړۍ لنډۍ په ډېرو موضوع ګانو باندې وئیلے شوې دي خو په دې مقاله کښې دا هڅه شوې ده چې په کاکړۍ غاړو کښې د پښتنو سماجي او ثقافتي اقدار و څېړلے شي او د پښتونولۍ هغه ټول توکي په ګوته کړ ے شي چې دا اقدار په کښې ذکر شوي وي.

1- قدر:

قدر هغه خبرې، اصولونه، معیارونه یا فېصلې دي چې یو څوک ئې په خپل فکر کښې د قدر قابل ګڼي-

د اخلاقیاتو په ژبه کښې اقدار د یو څیز یا د یو کار اهمیت ته وئیلے شي د کوم مرام چې دا ښودل وي چې کوم هغه کارونه دي چې کول ئې ښه دي ، یا کومه هغه طریقه ده چې په هغه باندې مونږ د ورځني اخلاقیات خپلو ے شو- یا ددې وضاحت کول چې د مختلفو کارونو کوم اهمیت د ے-

پښتو-پښتو سیند د قدر معنا داسي کړې ده:

" قدر نر- م - دیوه شي اندازه؛ برابر؛ قوه، وس، توان؛ حرمت، وقار؛ شتمنوالے، برخلیک، څه چې الله خپلو بندګانو ته مقدر کړي دي؛ د یوه شي ترتیب او نهایي سرحد-"

(1)

له دې نه داسي معلومیږي چې قدر ځان ته د یو چا د ښه او بد د محسوسولو سویه لري یا مونږ ته دا را په ګوته کوي چې مونږ باید څه وکړو- قدرونه هغو اصولونو ته وئیلے شي کوم چې د خلقوپه ښو کارونو کولو کښې رهنمائي کوي- اقدار هغه معیارونه دي په کوم سره چې مونږ د خلقو، حالاتو،شیانو، کړونو یا پېښو تخمینه کولے شو- په دې اندازې سره دا فیصله کول آسان شي چې کوم یو کار سم دے او کوم ناسم، کوم څیز د کار دے او کوم ناکاره- اقدار په هغو ټولو پرېکړو او د کار کولو په ډولونو باندې اغېزه کوي کوم چې انسانان په عادي ژوند کښې کوي- له دې کبله دې ته د یو کار کولو پېمانه وئیلے شي- هر رنګه قدرونه د انسانانو تر منځ ، په معاشره کښې د ښه ژوند تېرولو او راشه درشه ښوولو کښې کومک کوي- د "قدر" ټکے یوه ښه او مطلقه معنا لري- که داسي او وئیلے شي چې یو څوک قدر لري نو د دې خبرې دا معنا ده چې د هغه قدر عاجزي کول، خپل لوظ ترسره کول، رښتیا وئیل او نور دي کوم چې په معاشره کښې باوري بللے شي- دلته یوه خبره کول مهم ګڼم چې د ځینو خلق منفي څیزونو ته خپل اقدار وائي- هر سړے چې په ځان خوښے یا په کبر باندې فخر محسوسوي نو دې ته منفي قدر وئیلےشي- هم دا شان په یوه معاشره کښې د یوې ګروه او بلې ګروه قدرونه هم له یو بل سره فرق لري او یو شمېر قدرونه بیاداسي هم وي چې د تمامو خلقو په یو شان وي- د هر چا لپاره یو ډول حقونه، دمثبت کار حوصله افزائي او د خلقو سره ښه سلوک کول د قدرونو مثالونه دي-

قدرونه د خلقو په چلند باندې اغېزمن کېږي، چې په کښې نړیوال اقدار ، بشري، نظري، دیني، اخلاقي، سماجي، ثقافتي او نور قدرونه دي- نړیوال قدرونه د خلقو د منځګړي بقاء د ځانګړتیاوو او د معیاراتو مجموعه ده- د دنیا ټول بشري حقونه په قدرونو تکیه کوي- خواخوږي، ښه رویه او سلوک، ایمانداري، خلوص او د بل په غم ځان ګډول ټول هغه اقدار دي چې ټولې نړۍ منلي دي- له دې پرته فرض پوره کول، عدل، خپلواکي،

محبت، درناوے، باور او یووالے هم د نړیوال اقدارو مثالونه دي- دداسي ډول نړیوالو قدرونو غالباً هر هوشیار سړے خوښوونکے او قدر کوونکے دے- دا د مستقل او خوښۍ لرونکي قدرونو په حېث پېژندل شوي دي- بشري قدرونه هغه دي کوم چې په یو چا کښې د یو انسان په حېث ضروري بلل کېږي- له وې علاوه بردباري، وړتیا ، عجز و انکساري، وفا ، استقلال او احساس هغه بشري قدرونه دي کوم چې یو سړ ے لري نو هغه د معاشرې یو ښه فرد بلل کېږي- مذهب او اخلاقیات په اوچته درجه د ځاني او معاشرتي خواخوږۍ په وجه په یو خاص محورکښې د عمل کولو نرخونه جوړوي- د اخلاقیاتو معنا د بشري رسمونو یا دودونو علم دے- د اخلاقو درس مونږ د یو عمل په کولو اماده کوي یا مو د یو عمل کولو نه منع کوي- او دین د اخلاقیاتو نمونه یي بنیاد دے- یو دیني سړ ے ډېرپه آسانه ډول اخلاقي او اخلاقي سړ ے ډېرپه آسانه دیني جوړېدلے شي- د یومثبت ژوند د پاره دا دواړه څیزونه ضروري دي - دا خبره ټولې دنیا منلې ده چې د انسانانو معاشره د پرمختګ خوا ته روانه ده- دا ترقي د قدرونو بغیر پر مخ نه شي تلے، ولې چې د قدرونو په نښتوالي ټولنه ګډوډېږي او کومه معاشره چې ګډوډه شي نو هغه د نورو په پرتله پسمانده کېږي- ثقافت او قدرونه خلقو د خپلې اړتیا دپاره ساز کړي دي خو د زمان او مکان بدلېدو سره سم ثقافت او قدرونه هم تغیر خوري-

2- د پښتون والې اهمیت

لکه څنګه چې د دنیا تمام قومونه د زندګۍ تېرولو یوه قاعده او قانون لري، دغه شان پښتون قام هم د ژوند تېرولو ځانګړې لارې چارې لري- د پښتنو دې لارو چاروته پښتونواله وئیلے کېږي- د پښتونوالې جرګې په پښتنو کښې داسې شنې دي چې یو پښتون ئې هم خلاف ورزي نه شي کولے- په نورو ټکو پښتونولي د پښتنو یو نالیکلے آئین دے چې ټولو پښتنو بشپړه منلے دے-

د پښتونولي مختلفې تشریح خلقو کړې دي خو مونږ به د ټولو نه جالبه تعریفونه دلته لیکو- آزاد دائرة المعارف کښې د پښتونولي پېژندګلو په دې ټکو شوې ده:

پښتونولۍ هغه قاعده ده چې په زاړه وخت کښې پښتنو جوړه کړې ده او یا په بله معنا یې چې و وایو پښتونولۍ هغو دودونو او دستورونو ته وائي چې پښتنو د خپل ټولنیز ژوند دپاره ځانګړي کړي دي-

پښتونولۍ د روایتي پښتنې معاشرې یوه بشپړه ضابطه او د ژوندګۍ تېرولو رسم او منشور دے- کوم څوک چې پښتونولي نه لري هغه ته پښتون نه وئیلے کېږي او بې له دې د پښتنو ژندګي نیمګړې ده- یو ځاے بیا د پښتونولي پېژندګلو په دې ټکو شوې ده:

"افغان قام د پېړیو نه د یو عظیم ثقافت باني او وارث دے- داسې ثقافت کوم چې ټول په ټوله په خوبیو باندې اډانه دے او د پښتون د لوړ ذهنیت او د نفیس فطرت په ښه ډول عکاسي کوي- دې لاځوابه ثقافت ته د پخوانۍ زمانې نه د ,, پښتونولۍ،، نوم ورکړے شوے دے، چې د کوم خیال ساتل د یو ښه مسلمان او د غیور افغان په توګه په مونږ ټولو ضروري دے- "(2)

د دې نه داسې معلومېږي چې پښتونولي هم دومره زړه ده لکه پښتانه چې ده او دا له پښتنو سره څنګ په څنګ را روانه ده- که دې ته په غور وکتلے شي نو دا زرګونو کلونو ته رسېږي- د پښتونولي خبره ډېره مکمله او روښانه ده خو لا نور واضح کولو ته هم ضرورت لري- ژبپوهاند راج ولي شاه خټک په دې بابله داسې وائي:

" پښتانه ځان ته یو عجیبه غوندې تهذیبي مزاج لري،هغه دا چې د دوے ماقبل تاریخي تهذیبي ژوند په یومخلوط معاشرت کښې نه دے پاتې شوے- دوے د ژوند په ابتدا کښې خانه بدوش وو، خپل تهذیب ئې د دنیا د نورو خلقو په (Isolation) کښې ساتلے دے- په خپله بې ټکاوه ژوند کښې هم د پښتونولۍ روح ژوندۍ ساتلې ده ولې د نورو فنونو په پلو یې ډېره کمه توجه لرلې ده- هغه وجه ده چې د تهذیب فني اړخ په ریکارډ کښې نه دے راوستے شوے- "(3)

من حيث القوم که د پښتنو پوره زندګۍ ته وکتلے شي نو هغه ټول د سختو حالاتو سره مخ پاته شوي دي- له دې کبله د پښتنو د رسم او رواج په بابله يا خو څه ليکلے شوي نه دي او يا دغه ليکنې وخت په خړو سپلابونو کښې لاهو شوي دي-

پښتونولۍ يو داډول قانون دے چې د پښتنو سره ئې بهرني ليکونکي هم اعتراف کوي. روبرټ روس د اوسنۍ دورې ليکوال دے،چې د پښتونولي تعريف داسې کوي:

> "Pashtunwali describes the behavior of Pashtuns who live in Afghanistan and Pakistan. It can variously mean the "Law, customs, manners, or mindset" of the people."(4)

ژباړه: پښتونولۍ د هغو پښتنو چلند بيانوي چې په افغانستان او پاکستان کښې ژوند کوي. دا د هغو خلقو د قانون، رسمونو، معاملو،او د ذهني عادت معنا ورکوي-

3- د پښتون ولي مختلف اقدار

پښتونولۍ ښځي ډېر توکي لري، دې توکو ته قدرونه وئيلے کېږي، چې واحد ئې قدر دے- ښاغلے سمسور منګل په دې بابله داسې ليکل کړي دي:

> " د مغرب نومورې مهذب قامونه چې نن په کومو اقدارو د لوئۍ دعوې کوي او وياړ محسوسوي هم هغه اقدار افغان ملت په زرهاو کالونو نه ځان سره سره ساتلي راوړي دي- " (5)

اروپا، متحده امريکه،چائنا، روس، فرانس اود دنيا ټول هغه ملکونه چې خپل ځانونه ډېر تهذيب يافته او ترقي يافته بولي،اوسمهال په دې کوشش کښې دي چې هغه قدرونه په خپل ځان کښې راولي کومو ته چې پښتنو په زرګونو کلونو پخوا په خپل ژوند کښې ځاے ورکړے وو- د پښتنانه قام هره پرېکړه له هغه وخت نه تر اوسه پورې هم د پښتونولۍ دضابطې مطابق کېږي- ښاغلے عبيدالله درويش درانے د پښتونولي قدرونه په دا ډول راښيي:

> " پښتون په پښتونولي پښتون دے او په بېلابېلو توکو کښې ننګ، پت او مېړانه هغه څه دي چې تر سره کول يې لوړ همت، کلکه اراده، سپېڅلے مزاج،

سوچه فکر، کره رویه او اوسپنیز بازو غواړي، په دغه لړ کښې د پښتونخوا د دنګو دنګو غرونو څوکې دي چې شمله هسکه ساتولو ته یې هڅوي او شاته یې بیا پښتنه مېرمن د مور، خور،مایني یا محبوبې په بڼه ولاړه وي، مېړانه یې ستایي او سپیتانه یې غندي، دے هڅه کوي چې ځان یې له غندنې خوندي او د ستاینې وړ و ګرځوي"-(6)

د پښتونولي مختلف قدرونه دي خو دلته دا هڅه شوې ده چې یوازې هغه سماجي او ثقافتي قدرونه ذکر شي چې یادونه ئې کاکړۍ غاړو کړې ده-

4- کاکړۍ غاړو کښې د پښتنو سماجي او ثقافتي اقدار

په کاکړۍ غاړو کښې د نورو اقدارو سره سره د سماجي اقدارو ذکر هم ځاے په ځاے شوے دے- په سماجي اقدارو کښې تر ټولو مهم توکي مرکه او جرګه دي- پښتانه خپله هره پرېکړه په مرکو او په جرګو خلاصوي. مرکچیاني او د جرګه ماران هغه بې عوضه عادلان دي چې پرېکړې د پښتونولي په چوکاټ کښې کوي. د مرکو دوه قسمونه دي، یوه هغه مرکه ده چې د روغې او جوړې لپاره کېږي او بله هغه ده چې یوهلک لپاره د جنې غوښتلو مرکه وي. په دې لاندې غاړه کښې د مرکې د دوم ډول ذکر داسې راغلے دے:

" د مرکې مخ له ورځم

کې ګاهي مانے رخصت بې کم " (7)

جرګه که څه هم د مرکې یو قسم دے خو د مرکې نه لویه وي او د تمامې سیمې مشران په دې کښې ګډون لري. د جرګې د منصفانو فیصلې ټول خلق په سر سترګو مني. په لاندینۍ کاکړۍ غاړه کښې د کاکړانو د یو جرګه مارستائنه داسې شوې ده:

"د شال تنګي په وره کي

سمند خان د جرګې وکي " (8)

نومورے د پښتنو مشر وو چې پرېکړې ته به ئې هر چا غاړه کښېښودله. پورتنۍ لنډۍ کښې ورته زارۍ شوې دي چې په شال تنګي (دکوټې یو کلے) کښې دې جرګې وکړي چې

خپل منځي جګړې ختم شي. پښتانه هره پرېکړه په جرګو او مرکو خلاصوي. فریقین ځان ځان له درېیم و نیسي بیا په هغه فیصله کوي. ګا ے وخت په دواړو یو درېیم سره و نیسي چې واحد ثالث ورته وئیلے کېږي. د درېیم ذکر په یوه غاړه کښې داسي شو ے د ے:

کهول ګرد د ے زما دښمن          راسه ماما و کو دریم (9)

په دې برخه کښې یوه کاکړۍ رااخلم چې د پښتونولي دوه ټولنیز قدرونه لکه د ننواتي او جاربدلو دواړو یادونه په کښې شوې ده:

" که راځې در جار به زه سم          ننواتے در تلا ے نه سم " (10)

هر پښتون د خپل نیازبین نه ځان جاروي، که د هغه معشوق خوږ هېواد وي یا سیاه سرې ښځه وي. ننواتي بیا داډول توکے د ے چې هر پښتون ئې ښېخي د لاچارۍ په حال کښې کوي، معنا په چا داډول ملامت شو ے وي چې بې ننواتې ځان نه شي خلاصو ے. په ورځنۍ زندګۍ کښې پښتانه له ننواتې نه ځان ژغوري. په کاکړۍ کښې یو کاکړ خپل نیازبین ته دا وائي چې که ماته راشې نو سر جارول زمالپاره آسان دي خو غیرت دا اجازه نه را کوي چې ننواتے در شم . دغه شان د ننواتې په باب کاکړۍ ده:

" سپین کفن چاړه په غاړه          ورم د ګران تر کلا دواړه " (11)

پښتون چې کله قتل وکړي یا په یو چا بله ملامته وکړي بیا نو د جوړې او روغې لپاره ثالثان د فریقینو په منځ کښې زمینه برابروي. دغه درېیمان ملامته ډله هغې ډلې له ننواتې بوزي په چا چې ملامته شوې وي- یاده دیوي چې ننواتې کوونکي د ځان سره چاړه او کفن هم ور وړي. ننواتي کول او ننواتي منل د پښتنون قام یو منل شو ے رسم د ے.

"که راځې در جار به زه سم          ننواتے در تلا ے نه سم
که راځې در جار به زه سم          ستا حجرې له در تلا ے نه سم
(12)"

حجره د پښتنو په کورونو کښې هغه ځاے ته وئیلے کېږي چې د مسافرو او مېلمنو لپاره جوړ کړل شوے دے، له دې پرته د خلقو جرګه، مرکه او ننواتي هم په دې حجرو کښې کېږي.

"ته کفن وو چاړه راوړه ورږم د سرې تر کلا دواړه " (13)

پښتانه په یارۍ کښې هم د ننواتي د رسم خیال ساتي، د دې ذکر داسي شوے دے:

شپیان منم که نازک معاف کم

خلګو ور به د ځان واک کم (14)

په مخکینۍ کاکړۍ کښې د ننواتي یادونه شوې ده. پښتون چې کله په یو چا ملامت شي بیا نو د هغه کور ته ننواتي ورځي او هغه یې هم د پښتونولي د رسم مطابق معافوي. یو ځاےد ننواتې یادونه داسي شوې ده:

شپیان مه کړګي په ګران ده وروړم کفن بل به چاړه (15)

د ننواتي په بابله بله کاکړۍ ده:

قرآن مه دے به ځم غبرګي له ننواتکي خړ کالي له (16)

غبرګے دضلع پښین د خانوزئ یو کلے دے، چې مهترزي کاکړان په کښې مېشت دي-

له مینې ډکه عزیزولي او تربورولي هم د پښتانه یو ځانګړے رواج دے - ګا ے وخت بیا یوه ښځه د نرانو نه هم تکړه وي. په دې غاړه کښې داسې ښځې ته اشاره شوې ده:

" د ترلې ګرانے پر زیات دے

ناټ مه غوټ له تربرو مات دے " (17)

د ناجړه او ناکاره تربرونه یوه تکړه ترله ډېره زیاته وي – د داسي ترلې مینه او ګرانے هم د بې پته تربرو نه زیات دے. له دې پش د پښتنو د یو رواج مېلمه پالي یادونه په غاړو کښې داسي شوې ده:

" ډېر خوشحاله زما زړه دے مساپر یار مه مېلمه دے "
(18)

د پښتنو سره په شان ښځې هم مېلمستیا پالي، دوي د مېلمنو په راتګ ډېرې خوشحالېږي او کوم وخت چې د دې نازولے له مساپرې راشي او د دې مېلمه شي نو په چوپړ کښې ئې یو ډول کمے کوي. له اوږدمهاله مساپرې سره سره پښتون قام د یوې سیمې نه بلې سیمې ته کډې هم بوزي. داکوچیان په یخ کښې تودو او په ګرمۍ کښې سړو علاقو له هجرت کوي. د دې یادونه په کاکړۍ غاړه کښې داسې شوې ده:

" راځئ ځي کډې وکو توبې ژړ ګلونه وکو " (19)

د موسمي هجرتونو په باب یوه بله غاړه هم وئیلے شوې ده، په دې کښې د کوچیانو د کډو ذکر په دې ډول شوے دے:

" زمے راغے سهېل غورځي ستا لمبې بیرته راګرځي" (20)

سوېل هغه ستورے دے چې کډوال خلق د ژمي موسم پرې معلوموي، یعني کله چې سوېل غورزي نو کډوال خپلې کډې بار کړي او ګرمو علاقو له لاړ شي. د یو کوچي ځوان محبوبه د ده د کډې په تلو سره خپله خوابدي ځرګندوي- بیرته ځان په دې خبرو تسلي کوي:

" زه به نه تو یوم اوښکي ګران د مخ بیرته را کوږ کي (21)

کوم وخت چې یوه جنۍ د نازولي کور خالي و ویني نو لېونۍ شي ، او دځان حالت په غاړو کښې داسې ښیي:

" زه به خود لونۍ کړم ستا پر بر مېنه ښورړم " (22)

پښتون په یارانه او په عادي ژوند کښې هم د پښتونولي لوازمات په ځاے کوي او د داسې انسانانو سره راسته پاسته نه کوي چې بې پښتو وي – دداسې کړنو یو جهلک مونږ په لاندینۍ کاکړۍ کښې لیدلے شو:

" زړه مه نه درسره غواړي پښتنواله د ستا واوړي " (23)

مرکه د پښتنو يو ځانګړے رواج دے – د دې ذکر په غاړو کښې په دې ډول شوے دے:

" زما په غاړه سرې داني پر خلګو ګرځي مرکې " (24)

مرکه د ځلورو پنځو کسو يوې وړې شان جرګې ته وئيلے شي.د مرکې دوې بڼې په پښتونولي کښې شتون لري. يوه مرکه دې ته وائي چې د جرګې د اختيار اخستلو لپاره وي او بله مرکه هغه ده چې د يو ځوان لپاره د جنۍ پلار يا مشرانو ورونو ته ئې کوي.

په پښتونولي کښې هغه ټول چال چلندونه راځي چې پښتون قام ئې د ثقافت په طور سرته رسوي. د پښتونولي د دې ټولو رواجونو ستاينه په زيات ترو کاکړۍ غاړو کښې شوې ده. د دې مثال په دې يوه کاکړۍ غاړه کښې ليد ے شو:

" برابر دي له قانونه د کاکړو رواجونه" (25)

د کاکړانو زيات تره وګړي په کليوالو سيمو کښې مېشت دي، هم دا وجه ده چې تر نورو قومونو زيات په کاکړانو کښې د پښتونولي لارې چارې ډېرې قوي دي. دوي په دې پرمخ تللي دور کښې هم خپل رسمونه او رواجونه هم هغسې د قديم دور په شان ژوندے ساتلے دے- د دوي هر وګړے خپله وظيفه مخ په وړاندې بوزي. د پښتنو په دا شفاهي آئين کښې يو ډېرمهم توکے بدله اخستل دے. پښتون دمدعي نه خا مخا د قتل بدله اخلي. په دې لړ کښې چې کوم سړ ے کمزوري وکړي هغه ته د پښتنانه په معاشره کښې د ناسيال په سترګه کتلے کېږي. دا رسم دکاکړۍ غاړو له لارې داسې در پېژنم:

" وې سځے غازي فيضو کسات يې واخلئ پښتنو

دغه غاړه فيض محمد غازي ته منسوبه ده چې بيايې غازي ارسلا خان په سنځاوۍ کي د ګېسفوړډ په وژنه کسات واخست. " (26)

په پورته لنډۍ کښې په خلقو غږ شوے دے چې پښتنانه بايد د غازي فيضو بدله واخلي. کوم وخت چې غازي ارسلا خان د فيض محمد غازي بدله واخسته نو خلقو دا غاړه پرې جوړه کړه. دلته دا خبره ديادو وړ ده چې پښتون هيڅ کله په چا په سې خپله بدله نه پرېږدي.

" ارسلا غیرت پر کړے      د فیضو کسات ئې کښلے

کله چې پرنګیانو د پشین فیض محمد غازي شهید کړ او بیا ئې و سبځے نو
په دې عمل ټول پښتانه زهیر سول. هغه وخت د بوري او سپدونکے غازي
ارسلا خان را ولاړ سو له بوري څخه سنځاوۍ ته راغلے او هلته یې ګپسفورډ
پرنګے مړ کړ او د فیض محمد غازي غچ یې واخیست. " (27)

دا شان یو کاکړ خپل تربور ته د کاکړۍ غاړو په ژبه وائي چې له پردي وطن نه راکډه شه او د خپلو تربرو سره مېشت شه، که نه وي نو بیا زه هم پر قراره کښېنستے نه شم:

لیا را بار سه تر دا کور      لیا لګوم په دنیا اور (28)

څنګه چې پښتانه خپله بدله چا پسې نه پرېږدي دغه ډول خپل حق هم وصولوي، که څه هم پټ حق وي او که ښکاره، دا یوه کاکړۍ په دې باب ده:

که مه حق دے را یې که      له خلګو پټ خدا ے ته
ښکاره(29)

د پېغور یادونه په کاکړۍ کښې په دې شان شوې ده:

" خدا ے غني دے وا بې خلي      پېغور به نه لولو نبستي"
(30)

په پښتنه معاشره کښې پېغور ښځي د شرمندګۍ سبب دے چې خلق ئې د طعنې په طور چا ته ور کوي. پښتانه پېغورونه هغه چا ته ورکوي د چا نه چې یو ناجوړه کار سرزد شي. ځیني ناپوه خلق نبستي ته هم د پېغور نوم ورکوي خو دا سم نه دے. په لوړه غاړه کښې دا وئیل شوي دي چې نبستۍ څه د پېغور خبر نه ده، خدا ے ډېرغیرتي ذات دے، نبستي به ختم کړي.

د پېغور په بابله یوه بله کاکړۍ ده:

" خپل اخلاص راته پېغور سو      اوس مه زړه له دنیا تور سو" (31)

ګاهي وخت دا خپل خلوص سړي ته بلا شي، نو هغه خلق هم پېغور ورکوي چې په اولس کښې يوه سياللي هم نه لري. په پورته کاکړۍ کښې دا څيزه څرګند شوے دے. پېغور ورکول داسي بد کار دے چې په دې سره د سيمې تکړه سړے د خلقو د سيالۍ نه شي پاتې. کله کله خو داسي هم و شي چې سړے په وختونو له وطنه لاړ شي او ګاهي وخت په خپل کوره کښې محصور شي. دمثال په ډول:

" د پرديو له پېغوره زه در تلاے نه سم له کوره " (32)

يوه پښتنه جنۍ چې د رښتياؤ مينه کوي بيا د ټولې سيمې د خلقوخبرې برداشتوي خو د خپلې خبرې نه شاته نه ځي، په دې يوې غاړې کښې ئې و ګورئ:

" د ګړد ژوب خبرې وړم

نازکه تا کله پرېږدم " (33)

په تېرو مخونو کښې هم يادونه وشوه چې هر پښتون په خپله پښتو کلک ولاړ وي او په هر وخت کښې خپله وعده پوره کوي. ګاهي وخت د چا په ژبني قول يقين نه راځي نو د سوګند اخستلو ضرورت پېښ شي. پښتانه د خدا ے په کلام يا د کوروالا په طلاق سوګند خوري. په پښتونولۍ کښې د سوګند دماتولو اجازت يوه سړي ته هم نشته. د قرآن د سوګند ذکر په لنډيو کښې ډېر ليدلے کېږي. دمثال په طور دا يو لاړلنډۍ دي:

قرآن مه دے به ګران له ځم هم که سپوږمۍ دوې خيزي ليا

قرآن به واخلم قرآن به کښېږدم قرآن مه دے که به ګران پرېږدم

(34)

بله غاړه ده:

که مه غوټه پر ميان پرې کئ قرآن مه دے که مه ګران هېر کئ

(35)

پښتنې پېغلې په محبت کښې د خپل سر او مال نه تېرېږي.

د پښتون قام يو بل رواج ولور دے چې غاړو داسې راوړے دے:

که ته ما کوې هلکه روپۍ راوړه يو څو لکه(36)

په بعضې علاقو کښې ولور ډېر زيات وي چې لکونو کالدارو ته ځان رسوي. په لانديني لنډۍ کښې خدائے پاک ته خواست شوے دے چې پيسې ډېرې کړې:

" خدايه ډيرې کې پيسې چورياني ګردي سوې زړې "

(37)

ولورخو يو غوره رواج دے چې د جنۍ پلارګنۍ ئې په واده کښې د هلک د پلار نه غواړي، او بيا ئې په واده کښې مصرفوي- بل اړخ ته بيا داسې خلق هم شته چې د جنۍ په سر لوے لوے رقمونه د ولور په نوم اخلي او زيات تره رقم جېب ته اچوي . داسې خلقو ته په پښتنه ټولنه کښې ډېر په سپک نظر کتلے کېږي او ډېر په کلکه غندل کېږي - ولور په دې غاړو کښې هم غندل شوے دے:

" خپل همځولے تې ورکه ولور د زار سه مه يې خوره"

(38)

بعضې خلق د لوړو ولورونو په عوض کښې وړه جنۍ بډها ته ور کړي کوم چې د دې د نيکه په درجه کښې وي. پښتنو په کاکړۍ غاړو کښې ډېر مخ کښې د دې ناوړه کار نشاندهي کړې ده.

په پښتونولۍ کښې يو رواج د غړ کولو دے ، چې ځيني خلق ورته ټکان(ډزې کول) يا پلوغوټه کول هم وائي. په لاندې لنډۍ کښې د ټکانو ( ډزو) کولو ذکر په دې ډول شوے دے:

" ځې پر تا ټکان کېدا ے زه پر بازار در ګډېدا ے " (39)

دلته یو هلک خپل و محبوبې ته داسي وئیلي دي چي ستا کوزده( کوژدنه) به هرو مرو ما سره وي. که چېرته یو بل کس ستاسو په کور باندې تا سره د واده کولو دپاره ټکان (ډزې) وکړي او زه هم موجود یم نو سخته مقابله به ئې کوم او دا جهګړه به زه ګټم. د دې پرته هغه ټکان (ډزې) دي چي پښتون قام یې د خوښۍ په موقع کوي، د بېلګې په توګه د واده د ورا ډزې. دا ډزې د هلک لپاره د خوښۍ وي خو دهر هغه چا لپاره دخواشینۍ وي چي د زړه یاره ئې د بل کور ته ودیږي. یو ریښتونے مئین دلنډۍ له لارې د خپلې خواشینۍ څرګندونه په دې ډول کوي:

"دیواله ته مه زړل
ستا د واده ټکان کېدل" (40)

د پښتنو په معاشره کښې یوهلک او جنۍ په ښکاره ډول د خپل محبت څرګندونه نه شي کولے او نه په خپل پسند واده کولے شي. کله چي د یو هلک د معشوقې کوزده(کوژدن) بل چا سره وشي نو هیڅ ممکنه نه ده چي د ده دې شي، ولې چي دا د دائمي دښمني سبب ګرځي. دوه کاکړۍ راوړم:

" دا مه سوچ نه وو چورۍ
څي ستا به بل بیایي ډولۍ
دا مه زړه ته نه لوېدل
څي زما ژړو به سي د بل" (41)

د ډزو سره د پښتنو په ودونوکښې ډولونه هم وي چي ور باندې د کلي ځوانان اتنونه( ګډاوې) کوي. ډول او ګډا د پښتون کلچر دوه لازمي عنصرونه دي. کاکړۍ ده:

" د ښائستې جنۍ واده دے
خوند یې ټوله پر ډاله دے "

(42)

په پښتون په کلتورکښې کالي یا جامې هم ډېر لوړ حېثیت لري. د پښتنو نران او ښځې دواړه داسې جامې اغوندي چې دوی له خلقو نه ښېلوي. څو لنډۍ په دې حقله راوړم:

" د لمنې ژنګ مه جوړ کړل ما د غونډې کتو زوړ کړل

د لونګۍ څاک یې ښکاره دے ګل د کوز کلي مېلمه دے

د لېلن کالي را و که یاتوم به د نازکه"

(43)

دلته د پښتنو د پوشاک ذکر شوے دے. پښتنې ښځې زیات تره د ژنګ کمیسونه اغوندي چې د پالویو کمیسونه ئې هم بولي. یو جنۍ د داخواشینۍ اظهارکوي چې دپالویو قمیص ئې جوړ کړے د دې لپاره دے چې اشنا ے به ئې زما په تن کښې و ویني او خوند به ورکړي خو د حالاتو ستم ظریفي داسې وي چې اشنا ے سره ئې لیدنه کتنه و نه شي او قمیص ئې په تن کښې زوړ شي. دغه ډول په بله غاړه کښې یوه جنۍ د خپل یار د لونګۍ تعریف کوي. کله د اشنا ے نه د لېلن د جامو غوښتنه کوي. د جامو په حقله دوې نورې غاړې دي، هر یوه لکه:

" د نرۍ پر مخ پراته دي

تر ما سپین ځینځیران ښه دي

د نرۍ مه سې په غاړه

نوم د ډېر بد دے ګربوانه "

(44)

پښتون قام د پیرانو زیارتونه هم کوي او هلته د خپلو مرادونو غوښتنه کوي . په دې بابله یوه کاکړۍ لیکم:

" د دیدن خواست یې کومه

خرواري بابا له خمه " (45)

خرواري بابا د سهېلي پښتونخوا د يخې سيمې زيارت يو ډېر مشهوره بزرګ تېر شوے دے- د زيارت پخوانے نوم غوڅکۍ ده، په دې باندې د خرواري بابا د وجې د زيارت نوم اېښودلے شوے دے-

د ژوندد نورو جانداريو سره په خوا کښې پښتون قام د خپل لاربښودو ته زيات درناو ے لري. کاکړ قام د خپل مشر ستائينه داسې کوي:

" د نواب تر خنګ به تلې

سردار د نيم سنځرخېل يې " (46)

مشران چې څومره قدردانان لري دغومره مدعيان بيا دشمني هم ورسره کوي. دامدعا ګاهي وخت قومي، ګاهي ذاتي وي او ګاهي بيا د حسد په وجه وي- هغه دا ډول وي چې د نوروخلکودا نه په لوربړي چې پلانے سړے څله سردار شو، دا خو بايد زه و ے. يو څو غاړې په دا باب راوړم:

ګرانه مه راوړه لونګۍ کلے د بد وړي له لوېږي (47)

د پښتونولي په دودونو کښې د اوبه خور دود هم ډېر مشهور د ے. اوبه خور د هغو اوبو واري ته وئيل کېږي چې د ټولو خلقو سره ګډې وي لکه د کارېز اوبه،د خيزۍ يا مانده اوبه. د اولس خلق په خپل وار سره په خپلو فصلونو اوبه لګوي.د اوبه خور يادونه په غاړو کښې هم شوې ده:

" د خيزۍ برخه مه پرې کې

اوبه خور مه له ويالې کې " (48)

د دې کاکړو مطلب دا دے چې د چا د زياتو اوبو حق بل څوک و وهي او عوض ئې لږ ورکړي. دا غاړه دوې معناوې لري، لکه اصلي او علامتي- په يوه کاکړۍ کښې د خپلوۍ يادونه شوې ده:

" د کوټې و شاته زاړي

د پلار کور لېونو غواړي" (49)

پښتانه په عمومي ډول دوستي یا خپښي د خپلوانو سره کوي خو ګاهي وخت یوه ښځه لیري ځاے ته واده شي. د پښتنو ښځو د خپل بابا کور ډېر یادېږي خو د خسرګنۍ والا ته خپله دا کوزوري نه ښايي. دا پورته غاړه هم په دې حقله ده.

د پښتنو د ټولنې یوه حصه کوچیانے ژوند د ے. په لنډیو کښې ځاے په ځاے د دې یادونه شوې ده:

" د نړاندي کږدۍ زۍ ده

ځي ورځم سپینه سپوږمۍ ده " (50)

مرګے دا ډول سفر د ے چې د چا په یو سرې هم نه ربلېږي- خوکوم وخت چې د چا نازولے مړ شي بیا ډېر زور لري. پښتنو پېغلو زیاتره په داسي ځوانیمرګو کاکړۍ وائي، د مثال په طور:

" د خاټول تر ګل نازک

ګران د ډورۍ نه و لائق " (51)

د پښتنو په ودو کښې د جنۍ پلار د هلک د پلار نه ولور واخلي بیا د هلک د کور دپاره د اړتیا ډېر څیزونه اخلي چې د کاکړانو په لهجه کښې ورته کردار وئیلے شي. کاکړیو د کردار ذکر داسي کړے د ے:

" د ښادۍ کړدار د وکي یوه کړېځۍ څلور غرکي "(52)

که د جنۍ پلار زیات ولور نه واخلي بیا د خلقو د پېغورونو نه ځان نه شي خلاصو ے. په پورته غاړه کښې کم کردار غندل شو ے د ے- او کوم وخت چې د کردار څیزونه زیات وي نو ټول کلے کښې متاثره شي چې د پلاني سړي ناوې د ځان سره دومري زیات کردار را وړے د ے.

پښتنې جونې مخصوصه پوشاک اغوندي. په لاندي کاکړۍ کښې د ښځو د قمیص ذکر داسي شوے دے:

" ډېره ښه ایسي وړکۍ کمیس يې جوړ دے په کرزۍ "

(53)

د ګلابتونو جوړو پټو ته کرزۍ وئیلے کېږي کوم چې پښتنې ښځې پر قمیصونو لګوي. د دې قمیصونو د اغوستلو رواج ډېر لرغونے دے خو لا تر اوسه پورې دوام لري.

پښتون قام په ډېرې پابندۍ سره خیر او خیرات کوي. د مثال په طور دا غاړه :

" ډېر به وکم خیراتونه که د ګران رالل حالونه " (54)

دا کاکړۍ یوې پښتنې پېغلې ته منسوب ده چې د خپل یار د راتللو په خوشالۍ کښې ئې د خیر وخیرات خبره کړې ده. د پښتانه په معاشره کښې د دوو یارانو مئینتوب ډېر مشکل دے. د پښتانه زیاتې دښمنۍ د زمکو یا د ښځمنو په سبب وي. دا کاکړۍ ده:

" را ته وياييي خپل تربرونه له نرۍ واخله لاسونه " (55)

لکه د هلک تربوران چې د دوو یارانو تر میان خنډ اچوي دغه رنګه د جنۍ تربوران هم دي. په لاندي کاکړۍ کښې یوه جنۍ د هلک په حقله وائي:

" زما تربرونه بد سړي تورکالے ډېر ښله راځي " (56)

یو جنۍ چې څومره د خپل مئین په ژوندانه فکرمنده ده، دغه رنګه د دې محبوب هم په خپل هوډ سخت دربدلے دے. په دې بابله یوه کاکړۍ ده:

" زه درځم کلے خبر که کور په کور توپکان ورکه " (57)

یوه بله کاکړۍ ده:

لیا به ګډ سره کښېنو لیا به سورسرګي ګولۍ خورو

(58)

يوه کاکړۍ کښې د پښتنانه ډېر لرغوني رواج ولور داسي غندل شوے دے:

"زه پر ژوب نازک پر کوټه سره دې سي د دنيا ګټه" (59)

د ډېرو هلکوانو ودونه د دې وجه ځنډ واخلي چې هغوي ولور نه وي ورکړے او په مزدورو پسې ليرې وطنونو ته ځي. دا پورته غاړه دا راښيي چې پښتون قام د دې رواج زيات مخالفت کوي خو ځيني خلق د معاشرې د غلطو دودونو د وجې نه ولور ته اړ دي.

د پښتنو په علاقه کښې دخپلې خوښې واده کول ډېر مشکل دے. د پښتنانه ټولنيز شعور تر اوسه لا دې ځاے ته نه دے رسېدلے چې د دوو يارانو محبت يا د هغو د خوښې واده کول برداشت کړي. له دې کبله ډېرې مينه کوونکي په دې ارمان کښې مړه شي. يوه جنۍ خپل يار ته دکاکړۍ په ژبه دا وئيلي:

"ورا به راسي ما به يوسي لونړے به له تا جوړ سي" (61)

د واده پس د پښتنې جنۍ د مېړه کور د دې خپل کور وي او په شعوري توګه نور ځېزونه هېر کړي. په کاکړۍ غاړو کښې د دې يادونه داډول شوې ده:

"زياته نه درځمه نوره پاته شوې د بابا کوره" (62)

دې ته د خپل بابا ټاټوبے خو ډېر خوند ورکوي خو دا د خپل سړي سره د وفادارۍ نخښه ده چې د پلار د کور لمبې په ځان تېروي. پښتنې جونې د خپل يار په مينه کښې د خپل سر تېرې وي او غاړې کوي:

" زه که مړه سم کور مه خپل دے
ګران د روغ وي مساپر دے " (63)

په يو شمېر کاکړيو کښې د پښتنو جونو د کالو او زېوراتو يادونه شوې ده. دا يو لړ لنډۍ دي:

ژړ کالي ژړ چار ګلان رالې ژوبۍ د خراسان

ژړ چارګل څنځیر پر خوله          ما به د سترګوو ته کاته

ژړه غاړه ژړه نته          ژړو نه ده ملامته

ژړه ګوتکي سور غمے دے          مرګ یې زور غواړي مانړے دے

(64)

په دې پورته کاکړیو کښې د ښځو د مخصوصو زیوراتو ستاینه شوې ده. دا رنګه یوه کاکړۍ ده چې د پښتنو جونو د کالو ذکر پکښې شوے دے:

کلے بر دے نسته سپین          و چا ته وا غوندم برېښمین

(65)

رېښمین قمیص ته برېښمین وئیلے کېږي.دا درېښمو نه جوړ وي- پښتنې جونې د ازله ښکلې وي خو کله چې سنګهار وکړي بیا ئې ښکلا لا سېوا شي. داډول جینې پخپله یا د دې رشته داران سپېلني دودوي چې جینۍ د نظره نه شي، په دې غاړو کښې د دې ذکر داسې شوے دے:

سپېلني به دودومه          ستا نظر به ماتومه (66)

یوه کاکړۍ ده:

ګرانه دود که سپلني          دا ظالمان د نه پرېږدي (67)

پښتانه د خپلوهمځولانو ، اتلانو او مشرانو زیارت ته ډېر په خلوص سره ورځي. دا څو لنډۍ په دې حقله دي:

ستا مرګے یې ولیدے          خوب پر همځولو آرام سوے

ستا پر سر جنډۍ رېږي          همځولیاني په ځوکلږي

ستا همځولي ویر کوي          ته سوې د ټول عمر قیدي

ستا وسر ته کښېنستې همځولي ډيري ژړېدې

ستا پر قبر شنه اځغي همځولګې ويايي څي راځي (68)

په پښتونولۍ کښې رشته داري، خپلوي، خپښي او تربورولي ډېرد اهميت ور دي. او کله چې بيا خپل خپلوان دچا سره تعلق ختم کړي نو هغه ډېر سخت ګيله من شي، دا غاړه ده:

شا و خوا د تربرو کلے ما له يو نه دے راغلے (69)

يو ځاے بيا يو سړے د خپلو عزيزانو نه داسي ګيله کوي:

له ډېرو تربرو خوار سوم روے وم که ګناه ګار سوم (70)

په پښتنو کښې تربوران تل د سړي په سخته کښې په کارېږي- يو سړے داسي دے چې د خپلوانو نه ډېر په ګيله دے. دے داسي وائي چې زه نه خو روے (پېرے) يم او نه مي څه داسي ګناهکار يم خو بيا هم رانه ولي خپلوانو لاس واخستو او هيڅ څوک راسره ښه چلند نه کوي.

په تربورولي او خپلوي کښې پښتون قام يو د بل په خوشحالو کښې شرکت کوي لاکن توپير ئې دا دے چې غمۍ ته د ست بغېر او خوشحالۍ ته د ست سره ځي. پښتانه متل کوي چې کوربه په ست ښه معلومېږي او مېلمه په تللو. ست په دې غاړه کښې داسي ياد شوے د:

شپې د رالې د واده خوار سې ست به د کاوه (71)

پايله:

په دې مقاله کښې ذکر و شو چې جنوبي پښتونخوا د پښتو فولکلور د ټولو نه غټ مرکز ګڼلے کېږي-د پښتنو جغرافيائي موقعيت ډېر د ارزښت وړ دی، ځکه چې دا يوه قبائلي سيمه ده، او دلته ټول قبائلي روايات هم د پخوا په ډول موجود دي- د پښتونولۍ تاريخ ډېر زوړ دے ،دا د پښتنو هغه ناليکلے قانون دے چې ټول پښتانه ئې هرو مرو په ځاے کوي- کاکړانو خپل منځي ټولې شخړې د پښتونولۍ د ټاکلي نرخ تر مخه هوارې کړې دي. په دې سيمه

کښې اوس هم ټولې ورې او غټې پرېکړې د پښتونولۍ د لارې کېږي- پښتو ژبه چې د لیک په حواله ډېره غریبه ده خو په شفاهي ادب کښې دغومره شتمنه ده-دا د پښتنو یو نالیکلے تاریخ دے. د پښتنو هر عادت و هنر، رسم و رواج او د ژوندګۍ طریقې د پښتنو شفاهي ادب ساتلي دي.

کاکړۍ غاړې د سوهېلي پښتونخوا هغه صنف دے چې د پښتنو ټول روایات یې خوندي کړي دي. دې لنډیو هغه ټول اقدار ځاے کړي دي، چې پښتنو عملي کړي دي. د پښتونولۍ ښېخي ډېر توکي دي، په دې کښې د زیات ترو یادونه په کاکړۍ غاړو کښې شوې ده- د کوم نه چې مونږ صرف سماجي او ثقافتي اقدار را خیستي دي-

داسې نورې هم ډېرې کاکړۍ غاړې شته چې د پښتنو د سماجي او ثقافتي اقدارو ذکر دي پکښې شوے دے خو مونږ د مقالې د اوږدوالي په خاطر په دې کاکړۍ غاړو اکتفا کړې ده-

# حوالې

1- زاهد پښتو-پښتو سيند ، دريمه برخه، د افغانستان د علومو اکاډيمي د پښتو څېړنو نړيوال مرکز، دانش خپرندويه ټولنه،مخ746

2- منګل، سمسور، پښتونولي، دسمبر2017، باچا خان ټرسټ ريسرچ سنټر باچا خان مرکز پېښور، ص 26

3- خټک، راج ولي شاه، پښتو ادبي تحريکونه،1999، پښتو اکېډمي پېښور، مخ31

4-Rose, Robert, B.S, Pashtunwali and American Military,2015. Repository. Library, George Town. Edn,

5- منګل، پښتونولي، مخ38

6- درانے، د پښتني ژوند کړه وړه، 2014، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه ،مخ177

7- ژړک، محمد صادق، کاکړې غاړې،2010، پښتو ادبي غورځنګ، مخ293

8- ايضاً، مخ299

9- ايضاً ، مخ411

10- ايضاً ، مخ205

11- ايضاً ، مخ377

12- ايضاً ، مخ404، 405

13- ايضاً ، مخ226

14- ايضاً ، مخ381

15- ايضاً ، مخ382

16- ايضاً ، مخ402

17- ايضاً ، مخ302

18- ایضاً، مخ305

19- ایضاً ، مخ307

20- ایضاً ، مخ328

21- ایضاً ، مخ328

22- ایضاً ، مخ328

23- ایضاً ، مخ327

24- ایضاً ، مخ336

25- ایضاً ، مخ168

26- ایضاً ، مخ510

27- ایضاً ، مخ504

28- ایضاً ، مخ426

29- ایضاً ، مخ410

30- ایضاً، مخ251

31- ایضاً، مخ259

32- ایضاً، مخ279

33- ایضاً، مخ303

34- ایضاً، مخ401

35- ایضاً، مخ409

36- ایضاً، مخ407

37- ایضاً، مخ253

38- ایضاً، مخ254

39- ایضاً، مخ254

40- ايضاً، مخ270

41- ايضاً، مخ285

42- ايضاً، مخ295

43- ايضاً، مخ282

44- ايضاً، مخ284

45- ايضاً، مخ287

46- ايضاً، مخ284

47- ايضاً، مخ416

48- ايضاً، مخ294

49- ايضاً، مخ295

50- ايضاً، مخ296

51- ايضاً، مخ302

52- ايضاً، مخ304

53- ايضاً، مخ304

54- ايضاً، مخ306

55- ايضاً، مخ307

56- ايضاً، مخ318

57- ايضاً، مخ319

58- ايضاً، مخ427

59- ايضاً، مخ328

60- ايضاً، مخ427

61- ايضاً، مخ328

62- ايضاً، مخ329

63- ايضاً، مخ330

64- ايضاً، مخ337

65- ايضاً، مخ411

66- ايضاً، مخ345

67- ايضاً، مخ422

68- ايضاً، مخ359، 360

69- ايضاً، مخ380

70- ايضاً، مخ427

71 - ايضاً،مخ380